# کله چې الله جل جلاله د قيامت په ورځ لومړني او وروستني خلک راټول کړي، نو د هر خائن او غدار لپاره به يو بيرغ پورته شي، نو وبه ويل شي چې: دا د فلاني د فلاني د زوی خيانت دی

له ابن عمر رضي الله عنهما څخه روايت دی وايي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي: «کله چې الله جل جلاله د قيامت په ورځ لومړني او وروستني خلک راټول کړي، نو د هر خائن او غدار لپاره به يو بيرغ پورته شي، نو وبه ويل شي چې: دا د فلاني د فلاني د زوی خيانت دی».

[صحيح] [متفق عليه دی]

رسول الله صلی الله عليه وسلم خبر ورکوي چې کله الله تعالی د قيامت په ورځ لومړني او وروستني کسان د حساب کتاب لپاره راټول کړي، نو د هر هغه غدار لپاره به چې له الله تعالی يا خلکو سره يې کړې ژمنې نه وي پوره کړي، يوه نښه وټاکي چې له مخې يې خيانت په ډاګه کړي، او له مخې به يې غږ وشي چې: دا د فلاني د فلاني د زوی خيانت دی، څو يې بد د محشر خلکو ته په ډاګه شي.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/2936

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee